


# په نښترهال کښې قامي امن جرګې ته د وزير اعلٰی امير حېدر خان هوتي خطاب

پښتون رپورټر

دنيا دې واوري، چې پښتون دهشت ګرد نۀ دے، بلکې امن پسند دے، دا اواز ؤ د خيبرپښتونخوا د وزيراعلٰی امير حېدر خان هوتي، لکه:

اے نړۍوالو، امن دوستو، د جنګ پرستو مټ د نيوو دے
په ما قيامت دے په ما محشر دے، دلته هم زۀ مرم هلته هم زۀ مرم

د دې شعر شل دوه ويشت کاله د تخليق نه پس د دې صوبې پښتونخوا وزيراعلٰی قامي امن جرګې ته په لوړ اواز ووې، چې مونږ ته د دهشت ګرد وئيلو په ځائے دې دنيا د دهشت ګردئ د اور په وژلو کښې زمونږ مرسته وکړي، مونږ ټول د جرګو مرکو او خبرو اترو په ذريعه د حل کولو قايل خلق يو.

د خطې د مسئلو داسې هېڅ حل به زمونږ دپاره قابل قبول نۀ وي، چې هغه دې د پاکستان او افغانستان د مفاداتو نه لرې وي.

وزيراعلٰی ووې چې د لويو طاقتونو د يو بل نه د بدل اخستو دپاره د افغانستان انتخاب وکړو، روس چې لاړو نو امريکې هم په شا ونۀ کتل او په نتيجه کښې يې يوه خانه جنګي جوړه شوه، حېدر هوتي ووې چې مونږ په خپل څلور کاله دور حکومت کښې د تمام پارټيو په ذريعه د دې مسئلې د حل دپاره کوششونه کړي او دا عمل به تر اخري وخته جاري ساتو. هغۀ ووې چې عجيبه ده لکونه خلق مړۀ شو، خو د دې سوال جواب هېچا پيدا نۀ

کړے شو، چې دا وبا څنګه راغله او ذمه داري یې د چا په سر ده، د پښتنو سره زیاتے دا کېږي، چې پړۀ هم شو او مړۀ هم، د همدردۍ په ځائے ورته خلق دهشت ګرد وایي.

هغۀ ووې چې د پاکستان او پښتونخوا امن مشروط دے، د افغانستان د امن سره، د دې دپاره ضروري ده چې دواړه ملکونه په شریکه د امن دپاره کوششونه وکړي، هغۀ ووې چې مونږ دا خبره په




صفا ټکو کښې کوو، چې د افغانستان او پاکستان د شمولیت نه بغېر به د مسئلې هېڅ حل قابل قبول نۀ وي.

په پېښور کښې جوړه شوې قومي امن جرګه چې د افضل خان لالا له خوا په ۲۹-۳۰ مۍ جوړه شوې وه. افضل خان لالا جرګې ته ووې چې د ۳۰ لکو قتل شوو پښتنو دپاره هېڅرته هېڅ کمېشن جوړ نۀ کړے شو، چې تپوس وشي چې دا خلق ولې او چا مړۀ کړۀ او ګناه یې څۀ وه او لا دا سلسله جاري ده، چې مونږ له عالمي طاقتونو مجبورول په کار دي، چې د دې قتل عام مخنیوے وکړے شي.

هغۀ ووې چې په افغانستان کښې چې کوم جنګ ؤ، د روس او امریکې ترمنځه ؤ خو قتل خو پکښې ۳۰ لکه افغانان شو، افغانانو ته یې د خپلو رقابتونو ترمنځه د کوم څېز سزا ورکړه، نۀ چا د دې تحقیق وکړو او نۀ کوم کمېشن جوړ شو، هغۀ ووې چې دا خبره غلطه ده، چې دا جرګه د کومې خاصې پارټۍ د لوري ده، بلکې دا خو د ټول افغان قوم جرګه ده، په دې وجه د دې نوم هم قومي امن جرګه دې او په دې کښې صرف د خېبر پښتونخوا خلق نۀ دي، د بلوچستان او افغانستان خلقو ته هم دعوت ورکړے شوے دے، هغۀ ووې چې په قومي کارونو کښې په یو بل الزامات لګول د قومي جرګې د مقاصدو سره زیاتے دے، چې د چا د سویټ یونین او امریکې په جنګ کله او څنګه کردار ؤ او افغانستان چا چا د کوم کوم مقصد دپاره استعمال کړو او دغسې پاکستان چا چا استعمال کړو، دا خبره د غور او فکر ده، چې مونږ کښېنو او په شریکه سوچ وکړو او د مسئلو حل تلاش کړو.

د دې کوشش باوجود اخباري اطلاعات دا دي چې په دې جرګه کښې پي پي پي (ش)، جماعت اسلامي، تحریک انصاف او محمود خان اچکزي شرکت ونۀ کړو.

شاعري هر ځائے زمونږ په کار راځي، دا بېله خبره ده چې په یوه قومي جرګه کښې هېڅ شاعر ته څوک اهمیت نۀ ورکوي، ماته د ډاکټر اسرار دا شعر رایادېږي، چې:

هر څوک د یو او بل نه منډې وهي
چغې وهي چې یو کېدل په کار دي

ډاکټر اسرار